مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۴/۱۲/۲۷

د پښتونولي کوډکسونو په اړه د پېښځو پوهنتوني کتابونو پېژندنه

سرپڑه:

د پښتونولي کوډکسونه د پښتون ستر ملت توکمېز ځان انځور یا د پښتني ټولنې ایمج انځور په توګه پېژندل کېږي. پښتونولي د پښتنو د فلسفي ژوند لار ده. پښتونولي کې د پښتنو توکمېزه شخصیت انځور، مورالي اخلاقي تصورات په کې په ښه شوي او تشریح کېږي. کله د یوه قانوني سیستم په توګه، کله د پښتنو د ننګ، عزت او کړو وړو کانسپټ په توګه، کله د پښتنو د ټولو ټولنیزو اخلاقي معیارونو، دودونو، نورمونو کوډکسونه او کله هم د پښتنې ټولنې د نرخونو او ارزښتونو سیستم په توګه تشریح کېږي. پښتونولي یو نالیکل شوي قانون دی، چې د ډیرو اصولو، قواعدو، حقوقي، ټولنیزو نورمونو څخه یوه جوړه شوي لرغوني ټولګه ده. پښتونولي زمونږ د پلرونو او نیکونو په کولکټیفي حقوقي افکارو کې جوړه شوي د یوه نورماتیف ژوند یوه فلسفي لاره ده. پښتونولي د پښتنو یوه خپله کولکټیفي فلسفي نظریه یا ایډیالوجي ده. پښتونولي کې د یوې متمدنې ټولنې د خیر ښېګڼې ریښې شته او د ننني عصر ډېر متمدن اصول په کې شتون لري. د انساني کرامت ارزښت او د سوله ییزو خبرو اترو د جرګو کولتور په خپله پراخه لمن کې لري.

کله چې په تیره پېړۍ کې انګرېزي ښکېلاکګر سیاستوال او لیکوال د لوېرې ځل لپاره له پښتنو، د پښتنو تاریخ او لرغوني کولتور سره مخامخ شول. دوی د پښتونولي د ننګ او غیرت کوډکسونه لږ څه درک کړل، خو ځینو پښتونولي د عرفي یا دودیزه قانون یا د وینو بدل اخیستلو قانون په حیث منفي تعریف کړل. په دې ورستیو څو لسیزو کې لویدیځوال په ځانګړي توګه جرمن توکمپوهانو او ټولنپوهانو په نویو معیاري پوهنیزو اصولو او تیورېو کې د پښتونولي حقوقي تعریف په یوه وچ کلک عرفي قانون یا په یوه تنګنظره لید کې نه ګوري، بلکې دوی پلټلي چې د پښتونولي حقوقي نورمونه، اخلاقي نورمونه، ټولنیز نرخونه او قواعد لري، کوم چې د مومنو مسلمانو پښتنو لخوا په اسلامي چوکاټ کې د اسلام دین سره په مطابقت کې هڅې کېږي. لکه ننګ، عزت، میلمستیا، ننواتي، ښېنه، په خپل نفس باندې اعتماد، مساوات، زړورتیا، توره، فردي خپلواکي د خپل پلرني هیواد، خپلې مورنۍ خاورې او خپل ویاړلي ولس څخه دفاع پېغام په کې نغښتي دی.

په تیرو څو لسیزو کې د پښتونولي کانسپټونو په اړه پر پراخه کچه په علمي تحقیقاتي ستر لیدلوري کې، په مسلکي ادبیاتو کې او پر پوهنتوني تیوریکي پوهنیزو څېړنو کې د پښتونولي تعریف، ارزښتونه او نورمونه په زیاتیدونکي توګه د پوهانو، توکمپوهانو، ټولنپوهانو او څېړنوالو د څېړنو مرکزي ټکی یا په پوهنتوني تیوریکي څېړنو کې د څېړنو مرکزي مرحلې ته رسیدلي دي.

پښتونولي د پښتنو د ټولو هغو دودونو ارزښتونو او نورمونو یوې حقوقي مجموعې په توګه پېژندل کېږي، کوم چې پښتانه په خپل ذات یا په خپل اصل ونسب کې په خپلو ارزښتونو او تصوراتو کې د نورو قومونو څخه رابېلوي. په دې ارزښتمنه مجموعه کې د پښتنو د ننګ، غیرت کوډکسونه، د دودیزه قانون نورمونه، مورالي او اخلاقي تصورات، سنتي اداب، رسوم او رواجونه، د پښتنو نسلي او قومي جوړښتونه، په جګړه کې د یوه پښتون څخه د توریالیتوب او ننګیالیتوب تمې، د پښتنو ټول دود دستور او په پای کې خپل سپېڅلي دین ته ژمنتیا او وفاداري شامله ده. یو ښه پښتون هغه دی، چې نه ځان شرموي او نه بل. پښتونتوب یا پښتون اوسیدلو ته دا کفایت هم نه کوي، چې پښتون پښتو ژبه باید زده وي، پښتون باید پښتو وکړي، په دې مانا چې د پښتونولي د ټولو ارزښتونو او نورمونه په وړاندې یو عادل انسان واوسي. پوښتنه دا ده، چې ولې په پښتني کولتور باندې د اسلام سپېڅلي دین اغېز ډېرې ژورې دی، ځکه د پښتنو د ژوند نورمونه او اصول له اسلام سره ډېر ورتوالي لري او له همدې امله پښتانه له اسلام سره کومه ستونزه نه درلوده او نه لري. اسلام یې د یو فرد په توګه نه دی منلی، بلکې د ټول پښتون ملت مذهب په توګه منل شوي دی. پښتانه وایي؛ چې مړه پرې نه وو، مور دا دین نه پرېږدو. پښتانه یو، پښتو کوو او پښتو نه پرېږدو. حمزه بابا لیکي:

د پښتون فطرت مې دومره اسلامي دی، که اسلام نه وي نو هم به مسلمان ووم. پښتانه خپل کولتور لري او اسلام په پښتني کولتور کې ژور اغېز لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پښتونولي په اړه د افغان ليکوالو ليکنې او څېړنې

پښتانه ليکوال لږ يا ډير پښتونولي په خپلو ليکنو کې څېړلي او مطالعه کړي او ليکنې پرې ليکلي دي. په 1867 کال کې لومړني ليکوال حيات خان ,, حيات افغاني,, کتاب کې د وزيرو قبيلې تحريمي قوانين يا د بنديزونو مقررات تشريح کړي.

په 1939 کال کې په ملګرو ملتونو کې ستر پښتون او ډيپلومات عبدالرحمان پژواک د پښتنو قانون پښتونولي يې رسماً د کابل په سالنامه کې د افغانيت په نامه درج کړي. په 1955 کال کې پژواک,, تعاملات حقوقيه او جزايي ملي,, تشريح کړي او همدارنګه استاد قيام الدين خادم او وزير محمد ګل خان مهمند د پښتونولي اصول ليکلي بيان کړي دي.

په 1950 لسيزه کې د افغانستان په رسنيو کې د عامه پوهاوي لپاره د پښتونولي په اړه لومړنۍ ليکنې راڅرګندې شوې. اکثريت ليکوال د ويښ ځلميانو د غورځنګ غړي و. ځينو ولسي پوهانو او ځينو افغاني کولتوري ټولنو هم خپل رسنيز يا ژورناليستکي کار د ملت بيداري او ټولنيز عدالت برقرارلو لپاره ليکنې کړي. دوی په خپلو ليکنو کې د پښتنو تاريخ، رسمونو، رواجونو، دودونو او د پښتونولي د دوديزه نرخونو په اړه ليکنې کړي، چې پښتانه خپله په څه ډول خپلې اتلولي او زړوتيارو ته ګوري، خپل دودونه، رواجونه، ملي ارزښتونه او عنعنوي نورمونه خپله څنګه تعريفوي. د دې ليکنو موخې د ولسي زده کړو کچه لوړول او په ټولنه کې ولسي پوهاوي کچې لوړل لپاره کاريدلي. دا ليکنې د ننني ساينسي تيوريکي څېړنو، پر پوهنتوني لوړو معيارونو او پر علمي اکاډيميکو پلټنو لوړه سطحه نه دي ترسره شوي.

پښتونولي د بهرنيو لويديځوالو ليکوالو څېړنوالو له انده

لومړنۍ لويديځوال ليکوال څېړنوال د پښتونولي په اړه ليکنې او څېړنې ترسره کړي، هغه برتانوي ليکوال مانټ ستوارت الفيستون و. په 1809 کال کې نوموړي د افغان پاچاهانو په ژمني پلازمېنه او استوګنځي پېښور کې اوسيدو او د افغانستان کولتور او سياست په اړه مالومات راټول کړي دي. په 1815 کال کې په خپل کتاب ,, د کابل سلطنت،, کې د افغان ملت ليدلوري او د دوراني امپراتوری,, په اړه ليکنې کړي دي. نوموړي په خپل کتاب کې پښتونولي د وينو بدل اخيستل د يوه ,, وچ کلک دوديزه عرفي قانون,, په توګه ياده کړي. د دغې ښکېلاکګر تنګنظره ليکوال ليکنې تر نولسمې او شلمې پېړۍ پورې په انګليسي ژبو څېړنېزو منابعو باندې خپل منفي اغېز پريښودلی دی. لنده دا چې انګرېزي ليکوالو پښتونولي د پښتنو ,, قبايلي قانون,, په منفي توګه تشريح کړي. ,, د پښتنو قومونه په دوامداره توګه په شخصي او عامه توګه په جګړه کې بوخت دي. هر سری يو جنګيالی، يو سياستوال او يو عالم د دين دی. هر لوی کور يوه جنګي کلا ده... هره کورنۍ د وينې دښمنيو ته وده ورکوي، هر قبيله خپله دښمني پرمخ بيايي، هېڅ شی هېڅکله نه هيريږي او ډير لږ پورونه پاتی دي,,. دا د پښتنو په اړه د انګريزی ليکوال وينسټن چرچيل منفي نظر دی.

په نولسمه پېړۍ کې د افغان - انګليس دريو جګړو کې له سختې شرمونکي ماتې ورسته د انګريزي سياستوالو نظر بدل شو. دوی دا ومنله چې په لومړی ځل د نړيوال کولونيالستي امپاير په جګړو کې اصيلو اريايانو يا ممتازو عالي صفاتو سرکښو پښتنو جنګياليو ماتې راکړې ده. يوې هندې ليکوالې اغلې ريتا جوش هم ليکلي، چې پښتانه په هند کې له خاورو راپورته شول او د سترو امپراتوريو بنسټ يې کېښود.

پښتونولي په نړيوال سياست او د هاليوډ په فلمونو کې کيسې

د يوولسم سپټمبر د پېښې ورسته طالبانو خپل حکومت د پښتونولي تر ټولو مهم عنصر تر ميلمه پالنې قربان کړ. طالبانو خپل ميلمه د القاعدې شبکې مشر اسامه بن لادن امريکايانو ته له ورسپارلو څخه ډډه وکړه. دا چې نوموړی د پېښې مسوول و که نه و، طالبانو ښه وکړل او که بد، دا بېله مسئله ده. خو طالبانو له دې امله د نړۍ پوازيني ستر زبرځواک د امريکاياو بريدونو په وړاندې مقاومت ته ملا وتړله، خو د پښتونولي له دوو مهمو عنصرونو پناه اخيستل او ميلمه پالنې ته درناوی وکړ. طالبانو پر نړيوال کچ د افغانستان د سياست په موزائيک کې پښتونولي نسب کړه او تطبيق کړه. همداراز د ځينو وتلو بهرنيو څېړونکو په اند، پښتونولي د طالبانو په جګړييز مقاومت او د دوی په بېرته راتګ کې د پاموړ رول لوبولی دی.

د پښتنو ميلمه پالنه کانسپټ د ميلمه له اقتصادي حالت، مذهبي او توکمي تړاونو څخه ځان خپلواک ګڼي، حتی که د پښتون دښمن کور ته د پناه غوښتلو لپاره هم ورشي، پر پښتون کورېه باندې واجب ګرځي، څو په دغه وخت کې د خپل دښمن محافظت او ساتنه په خپل کور کې وکړي.

د لون سروايور,, "Lone Survivor" په نامه د هاليوډ سيمنا فلم چې د يوې ريښتنې کېسې پر بنسټ جوړ شوی دی. په دې فلم کې ښودل کيږي، چې څنګه يو پښتون د محمد ګلاب په نامه وکولی شول، په افغانستان کې د پښتونولي په اصولو کې د يوه امريکايي سرتيري ساتنه کوي. ځواب د فلم په پای کې وړاندې کيږي. پښتنو کليوالو کومو چې د امريکايي سرتيری مارکوس ساتنه کوله، دوی دا کار د پښتنو د څه باندې دوه زره کلن لرغوني قانون له امله کړي دی، په دې فلم کې ويل کيږي، چې دا قانون د پښتونولي په نوم پېژندل کيږي. کله چې طالبان راشي، محمد ګلاب

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ورته وايي، چې هغه زما ميلمه دی. زمونږ له سيمو څخه ووځئ. طالب سرتيري ګلاب ته وايي: ,, سړی راوسپاره، ايا ته غواړې، چې د يوه امريکايي دښمن سرتيری لپاره مړ شي.؟ په فلم کې امريکايي سرتيری محمد ګلاب ته وايي، چې تاسو ولې زما لپاره داسي يو کار کوي.؟. مارکوس غوښتل وپوهيږي، چې دلته څه روان دي. مارکوس د يوه سړی يا يوه پښتون لخوا نه دی ژغورل شوي، بلکې هغه پښتونولي ته د يوې باورمندې او ژمنې پښتنې قبيلې لخوا ژغورل شوي. مارکوس په افغانستان کې يوازيني سرتيری و، چې د (Operation Red Wings) عملياتو کې ژوندی پاتې شوی دی. پښتونولي حتی يوه قبيله په دې مکلفوي، چې د هغې سړی ساتنه او محافظت هم وکړي، کوم چې دوی ته يې د ميلمه په توګه پناه راوړې ده. پښتانه د خپل قانون پښتونولي له مخې د خپل دښمن ساتنه چې په هره بيه ورته تمامه شي، هم ترينه دفاع کوي او هم مسوولیت په غاړه اخلي.

په 2018 کال کې (JIRGA) د جرګې په نامه بل امريکايي استراليايي فلم د يوه استراليايي سرتيري کيسه بيانوي: يو پخواني استراليايي سرتيری بيرته افغانستان ته د هغې کورنۍ د موندلو لپاره وردرومي، کوم چې هغه په تيروتنه کې د جګړې پر مهال د دې کورنۍ يو غړی وژلی و. استراليايي سرتيري په نتواتي او د بښنې غوښتلو په لټه کې ورځي. نوموړي د خپل ژوند برخليک د پښتنو د کلي يوې قضايې جرګې ته يا د پښتونولي حقوقي سيستم ته خپله د قتل دوسيه يا قضيه ورسپاري. عجيبه دا ده، چې دغه سيمه د طالبانو تر کنټرول او حاکميت لاندې سيمه ده. په ريښتيني توګه په دغه فلم کې د طالبانو ځپنې پخواني قوماندانان د فلم لوبغاړي په توګه په کې لوبيدلي دي.

د پښتونولي کوډکسونو په اړه د پېښځو علمي پوهنتوني کتابونو چاپ او خپريدل

په 1981 کال کې د پښتونولي په اړه لومړنی کتاب د جرمني په هايدلبرګ پوهنتون کې د جرمن څيړنوال توکمپوه ښاغلي پوهاند دکتور ويلي سټيول لخوا د ,, پښتونولي د عزت کوډکس او د هغوي قانوني تړاو ,, [1] په نامه کتاب په 313 پاڼو کې ليکلي شوي. د کتاب انلاين پلورلو بيه 54 يورو ده. دا د پښتونولي په اړه يو خورا مهم څيړنيزه پوهنيز کتاب ليکلي شوي دی. په 2005 کال دويم کتاب د څېړنپوهنې مطالعاتو په برخه کې د ښاغلی اندې کالمير لخوا ,, مقطعي: پښتون، اسلام، پښتونولي او سياست,,[2] په اړه کتاب ليکلي شوي دی. دغه کتاب کې د اسلامي شريعت حقوقي سرچينو او د ژبپوهنې څخه کار اخيستل شوي دی. د دې کتاب څيړنوال هڅه کړې، چې د پښتنو دوديزه حقوقي سيستم پښتونولي اصول او مقررات، د پښتنو ټولنيز جوړښتونه، د پښتنو هويت اسلامي شريعت د پښتونولي سره په مطابقت کې بيان کړي. نوموړي جغرافيه پوهانو، د اسلامي نړۍ مسلمانو پوهانو، توکمپوهانو او نور بېلا بېلو لارو چارو ته د ماخذ په توګه مراجعه کړي ده. دا کتاب په څلور څپرکي ويشل شوي دی. په افغانستان کې د اسلام سپېڅلي دين مخکې او ورسته د پښتنو وضعيت په کې بيان شوي دی. د پښتنو ټولنيز سيستم او پښتونولي او په پای کې د شريعت په رڼا کې د پښتونولي او سياست ترمنځ انحرافات او مقطعي په ښه توګه وړاندې کړل شوي دي.

په 2022 کال کې دريم کتاب د جرمني په مونشن پوهنتون کې د اغلی کارولينې ټون لخوا يوه بله پوهنتوني څيړنه ,, د پښتونولي حقوقي تړاونو,,. [3] په اړه ليکلي دی. نوموړي په دې اړه د خپلې ماسټري تېزس سند په ډېره عالي درجه ليکلي او دفاع ترينه کړي. څلورم کتاب د جرمني د همبورګ پوهنتون کې د افغان مېرمني اغلي موسکا حقيقت[4] لخوا چې نوموړي هم خپل د جرمني کې د پښتنو د دويم نسل اړيکي په کې په علمي توګه مطالعه کړي او څيړلي شوي دي.[5] د اغلې موسکا حقيقت څيړنې د پښتنو د دويم نسل سره تړاو لري. کوم چې په جرمني او بريتانيا کې زيږيدلي او په لندن او همبورګ ښارونو کې رالوی شوي دي. په المانې او پښتو ژبه کې د پښتونولي کتابونه د نويو څېړنو تمرکز په جرمني، اتريش، سويس کې د زيږيدلو پښتنو ځوانانو او په ټولېزه ټوله په نړۍ کې د مېشتو پښتنو افغانانو لپاره ليکلي شوي دي. ايا بهر ميشتو مېرندو او پلرونو تر اوسه پر دې فکر کړي دی، چې پښتونولي د ماشومانو په روزنه او پالنه کې تر کومه حده پورې ونډه لرلې شي. د پښتونولي د عزت او اخلاقو کوډکسونه د اسلام له سپېڅلي دين سره څومره مطابقت لري. ځکه دا پوښتنه راپورته کيږي، چې پښتونولي د يو نالیکلي شوي قانون په توګه څومره له اسلام سره مطابقت لري. په ځانګړي توګه د نارينه او ښځينه جنسيتي اړيکو په تنظيمولو کې. د اغلې مسکا حقيقت

---

[1] Schnittmengen: Paschtunen, Islam; Paschtunwali und Politik; 28 Seiten; ISBN-13, 978-3638750701, GRIN Verlag; 2 Edition (24.August 2007)

[2] Schnittmengen: Paschtunen, Islam, Paschtunwali und Politik. Andre Kahlmeyer:

[3] Die rechtliche Relevanz des Paschtunwali, Ethnologie/ Volks Erscheinungsjahr 2002 ISBN (eBook) 9783640056569, München, GRIN Verlag.

[4] په ۱۹۸۵ کال مسکا حقيقت د جرمني په ويسبادن ښار کې زيږيدلې. نوموړي په ۲۰۱۷ کال کې د همبورګ په پوهنتون کې د توکمپوهنې او اسلامي مطالعاتو په برخه کې ماسټري اکاډيميک سند بشپړ ترلاسه کړي دی. ليکوالي د خپلو زده کړې راهيسې د کولتوري مطالعاتو په برخه کې پر افغانستان ډېر تمرکز ساتلی دی. څيړنې يې د کډوالۍ، بين المللېرم او ډياسبورا باندې تمرکز لري. دغه کتاب د جرمني په متعبر کتابتونونو کې ترلاسه کيږي او په انټرنيټ کې د امازون انلاين پورتال کې پلورل کيږي. اغلې مسکا حقيقت لومړنی افغانه پښتنه ميرمن ده، چې د پښتونولي په اړه پلټنې کړې او علمي کتاب يې ليکلی دی.

[5] Das Paschtunwali – traditionelle Normen, Wertvorstellungen und Bräuche der Paschtunen. Doing Pashto; Paschtunwali as the of honourable behaviour and tribal life among the Paschtuns: PD. Dr. Lutz Rzehak Humbolt-Universität zu Berlin, Kultur, Sozial und Bildungswissenschaftliche Fakultät/ Insstitut für Asien und Afrikawissenschaften.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ځيرنيز علمي کتاب کې د ,, دود دستور,, د ميندو پلرونو يا د پلرونو او نيکو تيرو نسلو ته اشاره کوي او د دوی د ارزښتونو او نورمونو په مانا يې تعبيروي. په کتاب کې د پښتنو دويم نسل ته د عصريت يا مودرنيزم عصر په توګه ګوري. نوموړي په خپل کتاب کې د مودرنيزم او دوديرم تعريفونه وړاندې کوي او تعقيبوي.
پېښم کتاب „د پښتونولي د حقوقي نورمونو او ارزښتنو ايډيالوجيک بنسټ“ [6] په نامه د سراج الحق ببرک زی ځدران لخوا په پښتو ژبه کې ليکلې شوي دی. د کډوالي لومړني نسل ارزښتونه او نورمونه اکثراً دوديږه دي. د کډوالی د پروسې په بهير کې دا نورمونه او ارزښتونه هم بدليږي. کډوال او په ځانګړي توګه دويم نسل د کوربه ټولنې د پردې نورمونو او ارزښتونو سره مخامخوي. کوم چې کولی شي د خپل کولتور سره د چلند په وخت کې د تقابل او د شخړو ډک حالت رامنځته کړي. له همدې امله نورمونه د عملونو يو نمونه تعريفوي، چې بايد په ځينو شرايطو کې ترسره شي. نورمونه په نسبي ډول د تمه کيدونکي چلند تمې نورو خلکو ته ښکاره کوي او فعالوي. ارزښتونه د خلکو د عملونو يا کړنو لپاره يوه لارښوونه ده. ارزښتونه او نورمونه هغه ايډيالونه او نظريات دي، چې انساني افکارو او کړنو ته د سمې لارې لارښوونه کوي.
پښتونولي د پښتنو د ارزښتونو او نورمونو کوډکس په توګه پښتنو ته د خپلو پلرونو او نيکو د حقوقي کولکتيفي فکرونو کې ښوونه، روزنه او لارښوونه کوي يا په کې کارول کيږي. په بله وينا پښتونولي د نورو ځيزونو تر څنګ د پښتنې ټولنې د ټولو ارزښتنو او نورمونو يوه ټولمنلي حقوقي مجموعه ده، چې د پښتنو په کولکتيفي افکارو کې رامنځته شوي ده. ليکوالو په خپلو کتابونو کې هڅې کړي، څو دا اړيکې سره پرتله کړي، وڅيړي او تشريح کړي. د پښتونولي په اړه د لويديځوالو او افغان نامتو تاريخ پوهانو ځيړنې مرکې په کې پرتله شوي دي.
دا پېښځه واړه پوهنتوني کتابونه تقريباً په يوه وخت کې له افغانستانه بهير ليکلې شوي دي. پېښځه واړو کتابونو د پښتونولي بېلا بېلو اړخونو باندې خپل تمرکز ساتلي دی. دا کتابونه او ځيړنې د پښتونولي د لرغوني قانون او د پښتنو د کړو وړو، ميلمه پالنې، ننواتي، عزت، غيرت، شرافت، حيا، پرده، د ښو اخلاقو او د خير ښېګڼو کوډکسونه په اړه ليکلې شوي دي. پښتونولي په ټوليزه توګه د پښتنو په قبايلي ټولنه کې حقوقي او ټولنيزې اړيکې تنظيموي. پښتونولي د پښتنو د ټولنيز چلند اړتياوې او نړيوال ليد لورې تدوينوي او ترسموي. حقوقي نورمونه د ټولنيزو نورمونو سره توپير لري. د حقوقي نورمونو اطاعت د ځانګړو ځواکونو لخوا څارل کيږي. له دې امله حقوقي نورمونه په ټولنه کې منل کيږي.
عموماً نورمونه او ارزښتونه د انساني عملونو لپاره د تطبيق وړ قواعد او مقررات دي، چې د نه اطاعت کولو يا عدم رعايت په صورت کې سړی له تحريمونو او بنديزنو سره مخامخ کېدلی شي. نورمونه په هر ټولنه کې شتون لري. نورمونه د انسان عملونو او د اجتماعي شعور له مخې ټاکل کيږي. نورمونه د کولکتيفي شعور برخه وي، د ټولنې موقف په نورمونو کې راڅرګنديږي. نورمونه په ټولنه کې انساني ژوند تنظيموي. نورمونه پلانوي او ارزښتونه خوندي کوي، ځکه نورمونه يا نرخونه ښيي، چې په يوه ځانګړي حالت کې څه شي ته اجازه شته يا څه شي منع دي. نورم معمولاً په هر کولتور کې يو رامنځته شوی يو ټولنيز چلند دی، چې د تطبيق تمه ترينه کيږي. ځينې وختونه دغه اصطلاح يو عادي چلند ته اشاره کوي، چې د احصائيوي نورم په نامه يادېږي، دا احصائيوي نورم د تمه کيدونکي يا اټکل شوي چلند يا ايډيالي نورم پر ځای کارول کيږي. له همدې امله نورمونه د عمل يوه نمونه تعريفوي، چې بايد په ځينو شرايطو کې ترسره شي. ارزښتونه د خلکو د عملونو لپاره لارښوونه کوي. دا نظريات دي، چې فکرونو او عملونو ته لارښوونه کوي، له بلې خوا نورمونه د انسانانو د چلند قواعد دي، چې د ارزښتونو سره تړاو لري. دا هغه ارزښتونه دي، چې د ټولنې په خلکو کې ټولنيز اعتبار لري، د بېلګې په توګه په افغاني ټولنه کې زمور ګډ افغاني او اسلامي ارزښتونه ارزښت لري. ګډ ارزښتونه د هويت برخه کيدلی شي. د نورو توکمپزو ډلو څخه توپير کوي، نورمونه او ارزښتونه جامد يا وچ کلک نه وي، دوی په دوامداره توګه د بدلون تابع دي. نورمونه د ټولنې لخوا تر پوښتنې لاندې راوستل کيږي يا پوښتل کيږي، کوم چې بيا تائيديږي يا بيا خبرې اتری پرې کيږي. که چيرې د ټولنيزو ډلو لخوا مثبت ارزيابي يا ارزونه وشي، بيا نورمونو او ارزښتونه ته اعتبار ورکول کيږي. کله چې نورمونه او ارزښتونه د مذهب سره په ټکر که نه وي، د مذهب لخوا مشروع بلل کيږي او مذهب يې خوندي ساتي. همدا لامل دی، د پښتونولي اکثريت نورمونه او ارزښتونه زمور په افغاني اسلامي ټولنه کې ساتل شوي دي.
د جرمني په برلين ښار کې د هومبولت پوهنتون کې د ښاغلي پروفيسور دوکتور لوتځ رزهاک لخوا په نامه د ,, پښتونولي: د پښتنو دوديزه نورمونه ارزښتونه او دودونه,, [7] په نامه يوه اوږده ځيرنيزه ليکنه ليکلې شوي ده. په 1981 کال کې ښاغلي لوتز رزهاک لخوا د پښتونولي په اړه په يوه مفصل تفصيلي پريزنتيشن کې پښتونولي د پښتنو د دوديزه نورمونه، ارزښتونه او دستورونه څيړلي دي.

---

[6] د افغانستان په لوی قاموس کې ,, د پښتونولي د حقوقي نورمونو او ارزښتونو ايډيالوژيک بنسټ،, کتاب خپريدل او نشرکتاب. ليکوال ببرک الحق ببرک زی ځدران سراج الحق http// www.afghan-dic.com babbrakzai pakhtoonwali hoqqi-normoona.PDF زی ځدران-http//www. Afghan-German.net/uploud/Tahliha PDF/arya r ketab pashtoonwali babrakzai.P،

[7] Paschtunwali: ein Ehrenkodex und seine rechtliche Relevanz/ 313 Seiten, Erscheiniungsjahr 1981/ von Willi Steul- Beiträge zur Südasien Forschung Südasien- Institut Universität Heidelberg/ Franz Steiner Verlag Wiesbaden.// ISBN-10 3-89913-771-2 Preis 54.00 Euro

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ليکوالو يوازي د پښتونوالي د دوديزو بنديزونو، مقرراتو، نرخونو او اصولو په چوکاټ کي کار کړي دی. د ننني عصري توکمپوهني څېړنو څخه په منله چي د پښتونوالي تنګنظر پراخوي يا په کي پراخوالي راوستلي دی. په بله وينا ,, د ټولو ارزښتونو او نورمونو مجموعې څخه چې څه رامنځته شوي، په ځانګړي توګه د پښتنو د ژوند لارې دود دستور او د ژوند طريقه ټاکي,, پښتونولي ته په ځانګړي توګه جرمن توکمپوهانو او ليکوالو په ځانګړي توګه په علمي توګه پاملرنه کړي. يو له هغو توکمپوهانو څخه ښاغلی کريستيان سيګريټ دی، چې د پښتونولي کوډکسونه په علمي توګه مطالعه او څېړلي دي. په 1966-1976 کلونو کې د نوموړي ,, پښتونولي د پښتنو قبايلو قانون ,, کتاب په افغانستان کي د خوست په سيمه کي د اوو او اتو مياشتو تيرولو او ساحوي څېړنو پر بنسټ ليکلي دی. نوموړي د پښتونولي د حقوقي نورمونو د څېړلو لپاره په لويه پکتيا کي د ځدرانو قام خانانو سيمې ګډه وړ ته هم ورغلي و. [8]
د پښتونولي په اړه د نورو مهمو اکاډېميکو څېړنېز اثارو يادونه: بل جرمن څېړنوال ښاغلي برنټ ګلاتزا لخوا په 1977 کال کي ,, د پښتونولي د پښتنو توکم د ځان انځور په توګه,, [9] په يوه څېړنېزه ليکنه کي څېړلي او د افغانستان په شمال لويديځ کي د دوراني پښتنو او کوچيانو د اقتصادي، ټولنيز او سياسي سازمانونو اړخونه يې څېړلي دي.
دغو درېواړو څېړنوالو او ليکوالو په افغانستان کي د توکمپوهنې له اړخه د پښتونوالي په برخه کي ساحوي څېړنې ترسره کړي دي.
د استراليا پوځ يوه ډګروال حوناتن هاکنز (DSM) ,, پښتونولي د پښتنو کولتوري کوډ,, [10] په نامه هم څېړنه کړي ده. نوموړي ډګروال ليکي: کله چې په 1897 کال کي وينستون چرچيل د افغانستان په پولو کي له پښتنو سره جنګيدلو، له هغې وخت راهيسي په پښتونولي او پښتنو کي بدلون نه دی راغلي. دا خبره د پښتونولي په اړه پخپله ليکنه کي ليکلي ده.
هندي څېړنوال تلک ديواشير په خپله ليکنه کي ليکي: نوموړی پر نړيوالو غږ کوي، چې پښتانه درک کړئ، پښتانه د تاريخ او کولتور څخه بې برخې کړل شوي دي. نوموړي ليکي: پاکستان له تې تې پې سره د افغان طالبانو اړيکې کمې ارزولې وی. اصلاً پاکستان د پښتنو د پښتونولي ځواک کم ارزولي دی. [11]
په 1975 کال کي ليکوالو هر يو الفريد جاناتا او ريحانودين حساس په خپلو څېړنېزو مقالو کي د ,, د غيرتمن او د يوه ښه پښتون د پښتونولي يا اساساتو باندې بحثونه,, ليکنې ليکلي دي.
په 1977 کال کي ميرمن برګيټ صرافي,, په افغانستان کي د ښځو د وضعيت په اړه څېړنې تر سره کړي دي. همدارنګه ميرمن بيندېکټ ګريما ,, د پښتني ميرمنو د احساساتو انځور فعاليت,,هغه بدبختۍ چې زما سره پېښې شوې دي. " [12] د پښتني ښځې رول او د يوې ښځې لپاره دا څه مانا لري. که څه هم په پښتنه ټولنه کي د پښتني ښځې د رول په اړه ډيرې لږ څېړنې شوي او کره ادبيات نشته، خو دا ټول په پښتنه ټولنه کي د پښتني ښځې رول ته زمينه برابروي. ځکه په پخوانيو ساحوي څېړنو کي نارينه اتروپولوجيستانو څېړنې ترسره کړي دي. د بدبختيو کېسې ويل، په ډيرو کولتورنو کي د ميرمنو ترمنځ معمولي خبرې دي. د خپګان څرګندونه (غم) د اړيکو جوړولو او ساتلو لپاره کارول کيږي. په پښتنه ټولنه کي د پردې نارينه څخه ستر کول. د حيا او پردې له امله څوک نشي کولې، چې پښتني ښځو ته ورنږدې شي او دا ډول د شخصي اړيکو په اړه څېړنې ترسره کړي. خو دغو دواړ درنو ميرمنو دا کار ترسره کړي دی.
په ټوليزه توګه په دې څېړنو کي د پښتونولي انفرادي اجزاوې، کانسپټونه او د پښتونولي کوډکسونه، نرخونه د پښتنو لپاره څه ماناوې لري. په پراخه توګه بيان کړي دي. نوموړو څېړنکو او کتونکو خپلې څېړنې په افغانستان کي د ساحوي څېړنو پر بنسټ ترسره کړي دي.

ښه پښتون کيدل ښه مسلمان کېدل دي

په دې کي هيڅ شک او شوپيان نشته، چې هر مسلمان پښتون لږ يا ډير د خپلې پښتني کورنۍ په چاپېريال کي د پښتونولي په اساساتو، اصولو او کوډکسونو کي را لوی شوي دی.

---

[8] Interviews with German Anthropologists Christan Sigrist, 02.05.2011 / http://www.germananthropology.com/cms/media/uplouds/4e53c31888fd9/interview-4f06f3b397399.pdf. (Khoster Becken, Zadran Stamm. Frühjahr 1967:

[9] ,Zum Pashtunwali als ethnischem Selbstportrait. https://thrutting.wordpress.com/wp-content/uplouads/2018/12/glatzer-pashtunwali-ethnisches-selbstportrait.pdf. BEIG PASHTUN-BEING MUSLIM – CONCEPTS OF PERSON AND WAR IN AFGHANISTANB: Glatzer(Hg) Essays on South Asian Society: Culture and Politics//. Centrum Moderner Orient, Arbeitshefte,9). Berlin: Das Arabische Buch 1988(S.83-94)

[10] The Pashtun Cultural Code: Pashtunwali, search.informit.org

[11] PASHTUNS: UNTERSTANDING HISTORY AND CULTURE: TALAK DEVASHER.

[12] Oxford University Press (18. August 2005) ISBN-13 978-01959978810/ The performance of emotion among Pashtun women: the misfortunes which have befallen me"

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په جګړه کې د يوه جنګيالي پښتون د شخيصيت انځور پيژندنه، د پښتون جګړښزه ذهنيت د شخصيت کانسپټ او د پښتون د جګړې مفهوم، د پښتون سوله ييزه فکر، د جرګو او مرکو لرغوني کولتور ريښې په پښتونولي او د اسلام په سپيڅلي دين کې نغښتی دي. پښتني ايډيالوجي، جګړې، ويارونه، ننګياتوب، توريالياتوب، غيرت او په ځان باورمنتوب دا ټول د پښتونولي په کانسپټونو او مفاهيمو کې تعريف شوي دي. د افغانانو د خپلواکۍ اراده، جګړييزه ذهنيت او د جرګو مرکو د سولې ييزو خبرو اترو منځ زړې په پښتونولي کې اينښودلي شوي دي.
د پښتونولي په تړاو په ټولو بهر مېشتو ځيرنو کې دا پوښتنه راپورته شوې، چې د نړۍ زبرځواکونو پر وړاندې د پښتنو د بريالي مقاومت انګيزې او لاملونه په څه شي کې نغښتي وو يا په کوم اساس ولاړې دي. ټول ځيرنوال او ليکوال د پښتنو د سوله ييزه او وسله والي مبارزې او کولکټيفي جګړو په اړه د پښتنو د خپلواکۍ لپاره جګړېز مقاومت، د هيوادني مينې او چلند رول د پښتونولي د توري او ننګ په کوډکسونو کې ټاټوي. له همدې امله لويديځوال افغانستان د نړۍ د زبرځواکونو هديرې په نامه يادوي. د سکندر مقدني څخه رانيولې، بيا تر چنګيز، مغلو، د پارس داريوش، د ايران د صفوي دولت په وړاندې، د هند مرهټو سلطنت په وړاندې د پآني پټ جګړه ستري بریاوې، د انګريزي نړيوال امپاير په وړاندې دري بريالي جګړې، د شوروي اتحاد وارسا تړون هيوادونو او د امريکې ناټو غړو هيوادونو سره د بريالي جګړو راز په څه شي کې نغښتی دی. په داسې حال کې چې د روسانو د مرکزي اسيا اتلس مسلمان جمهوريتونه او د انګرېزانو د شمالي افريقا او سويلي اسيا هيوادونه په بشپړ ډول تر خپل ښپکلاکي اشغال لاندې راوستي ول. خو يوه اسلامي هيواد د افغانانو په ځير يو په بل پيسې د وطن ازادۍ لپاره کاميابي جګړې، مبارزې او د ملي مقاومت پاڅونونه نه دي ترسره کړي.
د پښتنو پياوړي سپيڅلي جګړييزه روحيه د پښتونولي د توري په کانسپټ کې نغښتي ده. د پښتنو د توري پياوړي جنګي روحيه، توريالياتوب، زړورتوب او ميرانتوب د پښتونولي په احساساتو کې، په غوښتنو او تمو کې راڅرګنديږي. هېڅا پښتونولي داسې نه پيژندلې او نه تفسير کړي، لکه د پښتنو ملي نابغه شاعر خوشال خان خټک ليکي: چې مين په وسله نه وي، مرد دې نه وايي ځان ته. د توري اصلي مانا دا مانا لري، چې سړی د توريالياوب شهرت موندل په جګړه کې د ميړنتوب او سرښندنې له لارې ترلاسه کولې شي. د پښتنو د جنګيالي روحيه چې اکثراً د سرښندنې تر ورستۍ حده او اوجه پورې رسيږي او همدارنګه د پښتنو بې باکه، پرته له ويرې جګړښزه مورال او د خپل پلرنۍ هيواد په لاره کې فدا کاريو ته لېوالتيا د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې د خپلواکي په جګړه کې راڅرګنده شوې ده. د سکندر مقدوني، چنګېزيانو، مغولانو، انګرېزانو، روسانو، امريکايانو او همدارازې په مشهد او نيشاپور کې صفوي واکمنانو، په پاڼې پټ کې د هند مرهټو په وړاندې جګړې او د پښتنو انفرادي مبارزې په پايله کې راڅرګنده شوې ده.
پښتانه خپله پياوړي جګړييزه روحيه د خپلواکۍ جګړې او مبارزه له خپلې مذهبي اسلامي عقيدې سره په ژوره توګه ټېنګه ټرلې. له دې امله همدا د پښتنو جګړيزه روحيه تر کومه چې په اسلامي عقيده کې د کفارو په وړاندې تعصبونه او ضديت شتون لري، دا د پښتنو په شعور کې ژورې ريښې لري. کله چې پښتنو په لومړي سر کې د انګريزانو، روسانو او امريکايانو ښکېلاکي سلطه او استعماري پايلې اغيزې په خپل وجود کې محسوسې کړې، دې نظرياتو او عقايدو خپله د محتوياتو عملي بڼه غوره کړې. د انګريزانو او روسانو په ځير کفارو په وړاندې بريا پښتنو ته داسې بريښي لکه څنګه چې په قرانکريم کې د کفارو په اړه يې خبرداری ورکړل شوې دی. په دې شرايطو کې پښتنو د خپلواکۍ او د خپلواکۍ مبارزه د خپلې سپيڅلي اسلامي عقيدې او خپل ايمان پاک ساتلو لپاره د سپيڅلي مبارز په مانا پوهيږي. له دې امله د پښتنو له وياړه ډکه مبارزه، د خپلواکۍ سپيڅلي مبارزې روحيه او د پښتونولي دودونه او ارزښتونه له يو بل سره ټرلي شوي دي. د توري کانسپټ د يوه پښتون څخه د يو عالي او عادلانه موخې لپاره مبارزه کې د اتلوالي او قربانۍ غوښتنه کوي. پښتانه دا خپله سپيڅلي وظيفه ګڼي، چې د تر ورستۍ سلګۍ پورې بايد د دښمن په وړاندې مبارزه او مقابله وکړي.
په هر صورت د جګړې لپاره د پښتنو ليوالتا او چمتوالي حتمي يا اړين نه دي يا جګړه ورته حتمي مطلقيت نه لري. پښتانه په دې باوړ دي، چې شخړه بايد تر ټولو لومړي د سوله ييزو لارو چارو يا د جرګو او مرکو له لارې حل شي. خو که پښتون يو ځلي وسله پورته کولو ته مجبوره کيږي يا وننګول کيږي، بيا نو د هغه جرعت، زړورتيا او شجاعت حد او سيال نه لري.

ټولېز او لنډېز:

افغانيت يا پښتونولي د پښتني ټولنې او د پښتون ولس يو نړيوال پيژندل شوي انځور په توګه منل شوي دی.
پښتونولي له پيړيو پيړيو راهيسې زمور افغانانو د خپلواکۍ، ولسي پرستېژ، ولسي يووالي، ،،زمور د قومي احساس،، د شتون او بقا لپاره ضمانت کړي دی. پښتونولي د اسلام له دين سره د تر دې دمه د پښتونولي د کانسپټونو او په جلا وطنۍ کې د پښتنو د پښتونولي ارزښتونو او نورمونو د مراعاتولو په اړه کومه توکمپوهنيزه ځيرنه تر سره شوې نه ده. په جلاوطنۍ کې د افغانانو د کولتوري هويت په اړه يوازې توکمپوهنيزه مطالعات شوي دي.
هويت يا پيژند يو ټولنيز جوړښت دی، چې د تجربو او تعاملاتو له لارې رامنځته کيږي. د هويت مفهوم يا اصطلاح د بېلابېلو پوهنيزو څانګو لخوا په بېلا بېلو ډولونو کې تعريف شوي دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې خبره د هویت پوښتنې ته راځي، د افغانانو ترمنځ د هویت پیژندنې لاندې اړخونه مهم دي. په توکمیزه هویت باندې د ډېر ټینګار په ترڅ کې دا په اسانۍ سره هیرېږي، چې د ډیرې افغانانو لپاره د سیمه ییز، قومي او کورنۍ اړیکې د یو ګډ توکمیزه هویت په پرتله خورا مهمې دي. د تاریخ په اوږدو کې افغانانو نه یوازې د ملت جوړونې ډول، بلکې د یوه ټولنیز ملي هویت مفکورې جوړولو سره سم شعورې چلند نه دی کړي. له همدې امله د پښتنو د سترو ټبرونو د دورانې، غلجي او کرلاني پښتنو تر منځ ځېنې توپیرونه راپورته کیږي. دا توپیرونه یا شاخستونه د ټولو پښتنو قامونو ترمنځه شتون لري. دا د پښتنو اصل و نسب، قومي سټې او ولسي قومي جوړښت همداسې دی، چې په کې نه بیلتون او نه تضادونه شته. ټول پښتانه د یوې ونې یا یوې سټې ښاخونه دي. پښتانه په هند کې د پټان او په نړۍ کې د افغان په نامه پیژندل کیږي. پښتون او افغان دوه مترادف نومونه دي. پښتانه په افغانستان کې دولتي جوړونکی ولس او د نفوس په پرتله تر ټولو لوی قومي اکثریت یا افغان ملت جوړوي. افغانستان کې دننه د دوی لوی مرکزونه په ختیځ، سویل او سویل لوېدیځ کې دي. پښتونولي د پښتنو د قومي جوړښت هویت ښکاره بیانوي.

د هویت پیژندنې لاندینۍ مودل پر افغانانو سم تطبیق کیږي. لومړی قوم یا قبیله راځي، بیا توکمیزه ګروپ او په پای کې سیاسي، مذهبي تمایلات راځي. د افغان ملت شعوري یووالي پوازې د بهرني ګواښونو یا د بهرنیو یرغلګرو پوځونو په وړاندې د جګړې په ډګر کې راڅرګند شوي دی. د بیلګې په توګه په لوی افغانستان باندې د انګرېزي، روسي، امریکایي او پنجابي یرغلګرو په وړاندې ټول افغانان متحد سره دریدلي دي. په ټولیزه توګه کولتور د یوې توکمې ډلې د پوهنې او چلند ډول تشریح کوي. د بیلګې په توګه د دوی نړیوال لید، ټولنیز ارزښتونه، نورمونه او مادي شیان کوم، چې د خلکو لخوا منل شوي او نورو ته انتقال شوی وي، کولتور ثابت نه وي، بلکې په دوامداره توګه د بدلیدو په حال کې وي.

د پښتونولي مرکزي مفهومونه یا محوري مفاهیم د پښتنې ټولنې انځور د پراخو ارزښتونو څرګندونه کوي. دا مرکزي مفهومونه او ارزښتونه د پښتنې ټولنې، د پښتنو نړۍ یا نړیوال لید مشخص او تثبیت کوي. دا مرکزي مفاهیم لا د مخه د پښتونولي په اساسي مصطلعاتو یا اصطلاحاتو کې راڅرګند شوي او منل شوي دي، چې د پښتنې ټولنې د غړو تعاملات پر کوم بنسټ ولاړ دي. یا د پښتنې ټولنې د غړو ټولنیز کړه وړه او تعاملات پر څه شي باندې متمرکز دي او هغه د پښتونولي په بنسټیزو اصطلاحاتو کې د پیژندلو وړ دي. یوازې د پښتون نوم په خپله د عزت او وياړ نوم تعریف او بیانوي، دا د یوه غیرتي افغان کیسه ده. یوازې په توره کې زمور ژغورنه نغښتې ده، هغه توره چې په هغه کې زمور برلاسي ده. [13] :

پای



[13] Lacking what honour what is the Afghan story? The very name Paschtun spells honour and glory,
In the sword lies our deliverance, The sword wherein is our predominance:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د لیکوال: آرشیف

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ